## ملکي هوايي چلند خپلواکې ادارې ته د افغانستان د هوايي حريم د مسئوليت ليږد

### لنډيز

د 2001 کال په وروستيو کې، امريکايي پوځيانو په رسمي توګه د افغانستان د هوايي حريم کنټرول په لاس کې واخيست او د هيواد د هوايي حريم مديريت اړوند چارې يې د يو ترون په ترڅ کې يوې نړيوالې کمپنۍ ته وسپارلې. د افغانستان د ملکي هوايي چلند ادارې ته د هيواد د هوايي حريم د بشپړ مسئوليت ليږد تر لاس لاندې دی، خو د هوايي حريم د مديريت اړوند خدمتونو لپاره د هوايي ترافيک د وړ او په کار پوه کنټرولرانو نشتوالی او پراخ اداري فساد په ځانګړي توګه د ګمارنې او قراردادونو په برخه کې د دې پلان شوي ليږد په مخ کې خنډ ګڼل کيږي.

په دې ارزونې کې د اداري فساد په هکله وړاندې شوي مالومات د افغانستان د هوايي چلند د بيلابيلو چارواکو سره د مرکو او همدارنګه د سيګار د 2015 کال د مې مياشتې د رپوټ په ګډون د مهمو رپوټونو پر بنسټ راټول شوي دي. د سترو لګښتونه سره سره تر څو د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره په يوې خپلواکې او په ځان بسيا اداري بدله کړي (د 2002 کال راهيسې د امريکې متحده ايالاتو 562.2 ميليونه ډالره د ملکي هوايي چلند په برخه کې لګولي دي)، د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره لا تر اوسه هم د هغه تخصص او وړتيا څخه برخمنه نه ده چې پر مټ يې وتوانيږي په خپلواکه توګه د افغانستان هوايي حريم کنټرول کړي.

**په ټوليزه توګه اداري فساد په لاندې ډول د ليږد بهير زيانمن کړی دی:**

- د ګمارنې پر بهير د دولت د لوړ پوړو چارواکو، سياسي مشرانو، او د پارلمان د غړو نفوذ، چې دا کار د دې لامل ګرځي چې د ملکي هوايي چلند په ځينو پستونو کې بې کفايته او ناژمن کسان وګمارل شي.
- د قراردادونو له بهير څخه په ځانګړي توګه د هغو قراردادونو څخه چې له بهرنيانو سره تړل کيږي ناوړه ګټه اخيستنه. د څارنې او ارزونې د کميټې د موندونو پر بنسټ، د ملکي هوايي چلند د قراردادونو رياست د هغو شرکتونو د مخينې په هکله اړينې څيړنې او ګرويګنې نه کوي چې د داوطلبۍ په بهير کې ګډون کوي. هغه شرکتونه چې د داوطلبۍ په بهير کې د ګډون څخه پرته قراردادونه د درغلۍ او معاملې له لارې ترلاسه کوي ډيری يې د افغانانو د تخنيکي ظرفيت د لوړولو په ګډون چې د هوايي حريم د خپلواکه کنټرول لپاره اړين ګڼل کيږي، پرخپلو هغو مکلفيتونو چې په قرارداد کې تسجيل شوي دي عمل نه کوي.

د افغانستان د ملکي هوايي چلند د ادارې د 12 چارواکو څخه چې مرکه ورسره شوې، ډيری يې په دې اند دي چې د ملکي هوايي چلند ځيني چارواکي د هغې ګټې له امله چې له بهرنيو کمپنيو څخه يې ترلاسه کوي د يادو کمپنيو سره د قراردونو دوام ته سخته ليواله دي. او له همدې امله ياد چارواکي د اصلاحاتو او سمون ، د بشري سرچينو د ظرفيت د لوړولو او د ظرفيت جوړونې يو اغيزمن ميکانيزم رامنځته کولو ته زړه نه ښه کوي. که څه هم دا ادعاګانې د کومې خپلواکې سرچينې له خوا نه دي تاييد شوي.

د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره په وروستيو کلونو کې په منځنۍ توګه په کال کې څه نا څه 33 ميليونه ډالره عوايد راټولوي چې 70% سلنه يې د هغو نړيوالو الوتنو څخه ترلاسه کيږي چې د افغانستان د هوايي حريم څخه تيريږي. که چيري د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره، د نړيوالو منل شويو معيارونو سره سم عمل وکړي او د خپل هوايي حريم د کنټرول مسئوليت پخپله په غاړه واخلي، ياده اداره کولای شي خپل عوايد لا زيات کړي.

په افغانستان کې د يادو معيارونو نه پلي کول به په دې معنی وي چې د اروپايي هيوادونو په ګډون ګڼ شمير هيوادونه به خپلو هوايي شرکتونو ته اجازه ورنکړي چې افغانستان ته الوتنې ولري. دا کار د افغانستان د هوايي چلند اداره د هغه فيس د راټولولو څخه بې برخې کوي چې له يادو شرکتونو څخه د افغانستان د هوايي ډګرونو د کارولو له کبله يې ترلاسه کوي. د هوايي ډګرونو څخه د ګټې اخيستنې فيس د ډيری هيوادونو د هوايي چلند د ادارو لپاره د عوايدو اصلي سرچينه ګڼل کيږي.

د هوايي ترافيک د کافي شمير کنټرولرانو په نشتون کې به ستونزمنه وي چې وړاند وينه وشي چې د افغانستان د هوايي چلند اداره به څه وخت په دې وتوانيږي چې د هوايي چلند نړيوال استندردونه پلي او ګڼ شمير هوايي شرکتونو ته د افغانستان د هوايي حريم څخه د ګټې اخيستنې موقع برابره کړي.

## I. د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري حقوقي وضعيت

د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره د افغانستان د ولسمشر د 1391 کال د لړم د مياشتې د اتمې نيټې د 88 ګڼه فرمان پر بنسټ د يو خپلواک بودجوي واحد په توګه رامنځته شوه.

## II. مخينه

د ملکي هوايي چلند اداره د افغانستان په اقتصاد کې خورا مهم او رغنده رول لوبوي. خو درې لسيزې جګړې او بې ثباتی د افغانستان هوايي چلند سکتور ته ستر زيانونه رسولي دي. د جګړو او ناکراريو پرمهال افغانستان د هوايي حريم د مديريت او يا هم هوايي چلند ته اړوند خدمتونو د وړاندې کولو لپاره اړينې زيربناوې او ظرفيتونه په واک کې نه درلودل. د افغانستان د ملکي هوايي چلند قانون په 2012 کال کې تصويب شو. د هوايي چلند د شرکتونو د فعاليتونو تنظيم او څارنه، د نړيوال ملکي هوايي چلند بنسټ (ICAO) په غونډو کې د افغانستان څخه استازيتوب، د هوايي سفرونو او د افغانستان د هوايي ډګرونو د مديريت په موخه د پاليسيو جوړول د افغانستان د ملکي هوايي چلند د مهمو دندو او مسئوليتونو څخه ګڼل کيږي.1

افغانستان 63 سيمه ايز او 4 نړيوال هوايي ډګرونه لري چې په کابل، کندهار، هرات او بلخ ولايتونو کې موقعيت لري. د افغانستان د ملکي هوايي چلند سيستم له دوو برخو، د هوايي حريم د مديريت او د هوايي ډګرونو د خدمتونو څخه جوړ شوی دی. د هوايي ترافيک کنټرول خدمتونه او د الوتکو د اړيکو سيستمونه او لارښونه د افغانستان د هوايي چلند په سيستم کې شامل دي. د څارنې د برجونو فعاليتونه، د هوا پيژندنې رپوټونه او د ژغورنې خدمتونه د هوايي ډګرونو د خدمتونو برخه ګڼل کيږي. د ملکي هوايي چلند د سيستم څخه څارنه د ملکي هوايي چلند د اداري د اساسي او بنسټيزو مسئوليتونو څخه شميرل کيږي.

د طالبانو د واکمنۍ څخه وروسته د افغانستان د ملکي هوايي چلند د وروسته پاتې سيستم رغول د نړيوالې ټولنې د لومړيتوبونو په سر کې ځای درلود. د 2002 کال راهيسې د امريکې دفاع وزارت(DOD) او د امريکې د هوايي چلند فدرالي اداري(FAA) د افغانستان د ملکي هوايي چلند سيستم بيارغونې ته متې راونغاړلې. د 2002 کال راهيسې امريکايي بنسټونو په ټوليزه توګه څه ناڅه 562.2 ميليونه ډالره په افغانستان کې د ملکي هوايي چلند پر اړوندو فعاليتونو لګولي دي چې له دې ډلې څخه د امريکې دفاع وزارت څه ناڅه 500.2 ميليونه ډالره( د دې پيسو ډيره برخه قرارداديانو ته د هوايي حريم د مديريت لپاره ځانګړې شوي دي.) او د هوايي چلند فدرالي اداري په يادې برخې کې 56.52 ميليونه ډالره لګولي دي. سربيره پر دې په 2010 کال کې د امريکې نړيوالې پراختيايي اداري(USAID) څه ناڅه 5.5 ميليونه ډالره د افغانستان دولت سره د دوو سيمه ايزو هوايي ډګرونو د بيا رغونې په برخه کې مرسته کړې ده.

د نړيوال ائتلاف ځينې هيوادونه لکه جرمني، جاپان او پرتګال او همدارنګه نړيوال بانک د افغانستان د ملکي هوايي چلند د سيستم په بيارغونې کې ونډه اخيستې ده. (د افغانستان د ملکي هوايي چلند سره د نړيوالو مرستو يو هر اړخيز نوم لړ له دې رپوټ سره ضميمه دی.)

### د هوايي حريم د مسئوليت په ليږد کې ځنډ او د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو پای

د2001 کال له وروستيو څخه د 2014 کال د دسامبر مياشې تر 31 مې نيټې پورې د افغانستان د هوايي حريم د مديريت اړوند خدمتونه د بهرنيو هيوادونو او پوځيانو لخوا وړاندې کيدل( د امريکې د هوايي چلند د فدرالي اداري ، د امريکې د دفاع وزارت او د نړيوال ائتلاف د ځواکونو لخوا). د پلان سره سم، د امريکې متحده ايالات د افغانستان د هوايي حريم د مديريت مسئوليت بايد د 2014 کال تر پايه افغان لوري ته سپارلی وای چې دا کار پلی نشو، ځکه چې د افغانستان حکومت د دې مسئوليت د منلو لپاره چمتو نه و. د ټرانسپورټ د پخواني وزير د څرګندونو پر بنسټ، د ياد ځنډ اساسي لامل د هوايي ترافيک د کنټرولرانو د پوره شمير

---

[1] د افغانستان د ملکي هوايي چلند د بشري سرچينو د رياست رپوټ ، جولای 2015

2 د افغانستان د بيا رغونې لپاره د ځانګړي مفتش اداري د هوايي چلند د مالي اديت رپوټ 15-58 د 2015 کال د مې مياشت

نه شتون دی، چې دې کار د 2015 کال د جنورۍ څخه تر جون میاشت پورې د پوځي قرارداد تمدید ته لاره هواره کړه. په جون میاشت کې د امریکایي پوځیانو د هوایي ترافیک د کنټرول د قرارداد په ختمیدو سره، او په هوایي خدمتونو کې د ځنډ او اخلال د مخنیوي په موخه، د امریکې د دفاع وزارت د 29.5 میلیون ډالرو په ارزښت یو لنډ مهاله تړون تمویل کړ ترڅو د 2015 کال تر سپټامبر میاشت پورې خدمتونه وړاندې کړي. د امریکې استازو افغان لوري ته په ډاګه کړه چې له دې وروسته د لنډ مهاله عبوري تړونونو تمدید شوني نه ده.

په هوایي خدمتونو کې د احتمالي اختلال او ځنډ رامنځته کیدو خطر د افغانستان دولت دې ته اړ کړ چې د جون په میاشت کې د(RMS) کمپنۍ سره د 47.9 میلیونه ډالرو په ارزښت یو دوه کلن تړون لاسلیک کړي. د (RMS) کمپنۍ یاد قراداد د پنځو کمپنیو څخه چې په داوطلبۍ کې یې ګډون کړی وو د دوه کلونو لپاره ( د 2015 کال د سپتمبر څخه د2017 کال د سپتمبر میاشت پورې) ترلاسه کړ. (RMS) کمپنۍ به د هوایي چلند د تجهیزاتو د ساتنې او مراقبت، اړینو پرزو برابرول، او د تخنیکي پرسونل د روزنې په ګډون د افغانستان د هوایي حریم د مدیریت مسئولیت په غاړه ولري. یاد تړون د تدارکاتو د ملي اداري لخوا تصویب شوی دی. په ورته وخت کې، د تدارکاتو ملي اداره ادعا کوي چې په نوي تړون کې د پام وړ سپما شوې ده، ځکه چې پخوانی تړون د 236 میلیونه ډالرو په ارزښت د پنځو کلونو لپاره و.

د افغانستان د ملکي هوایي چلند د اداري د مالوماتو پر بنسټ، د پخواني تړون په پرتله د ( آر ام اس) کمپنۍ سره په تړون کې د پام وړ سپما اساسي لامل د یاد تړون په بهیر کې د افغانستان د ملکي هوایي چلند د تړونونو د دیپارتمنت بنسکیلتیا، او همدارنګه د افغان مسلکي پرسونل زیاتوالی دی چې د دې قرارد له لیاری به تر روزنې لاندې نیول کیږي.

که څه هم چې د سپما دا محاسبه ډاډمنه نه بریښي، ځکه که چیرې پخوانی تړون د پلان سره سم ګټور او اغیزمن ثابت شوی وای اوس به افغانستان د خپل هوایي حریم کنټرول په لاس کې اخیستی وای او دې ته به اړتیا نه وه چې څه ناڅه ۵۰ میلیونه ډالره په یوه نوي تړون ولګیږي.

**د میلیوناو ډالرو لګښت سره سره، د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره اوس هم د هوایي ترافیک د وړ کنټرولرانو له کمښت سره مخ ده.**

د افغانستان د ملکي هوایي چلند د اټکل له مخې، یوازې د کابل د کنټرول په مرکز(KACC) او د کابل د هوایي لاربښونو په مرکز(KAC) کې 55 روزل شویو او منل شویو کنټرولرانو ته اړتیا لیدل کیږي. په داسې حال کې چې د کابل ، کندهار، هرات او مزار شریف په نړیوال هوایي ډګرونو کې د څارنې د برجونو د بشپړ کنټرول لپاره 84 اضافي کنټرولرانو ته اړتیا شته.

که څه هم چې د امریکې د هوایي چلند فدرالي اداري د افغانستان د ملکي هوایي چلند 96 تنو کارکونکو ته روزنه ورکړې ده خو د یادې اداري روزنیز پروګرامونه په دې ونه توانیدل چې د هوایي ترافیک پوره او کافي شمیر کنټرولران وروزي ترڅو دولت په یاده برخه کې په خپلواکه توګه فعالیت وکړي.

د یوه دولتي چارواکي له خولې، د هوایي ترافیک د کنټرولرانو په ګډون د هغو کارکونکو اکثریت چې د امریکې هوایي چلند د فدرالي اداري لخوا روزل شوي تر اوسه د دندې پرمهال اړین عملي روزنیز پروګرامونه(OJT) نه دي بشپړ کړي3. امنیتي اندیښنې د دې لامل شوې چې زدکونکي د کابل د کنټرول مرکز(KACC) او د کابل د هوایي لاربښونو مرکز(KAC) ته لاس رسی ونه مومي ځکه چې په یادو مرکزونو کې د ائتلافي ځواکونو د الوتنو او پوځي عملیاتو په هکله مالومات ساتل کیږي.

د پاسپورت او ویزې د ترلاسه کولو په بهیر کې د ځینو ستونزو له امله د امریکې د هوایي چلند فدراله اداره د روزنې په موخه بهر ته د زدکونکو د لیږد په برخه کې له ستونزو سره مخ شوه. سربیره پر دې، د امریکې د هوایي چلند د فدرالي اداري او نړیوال ائتلاف ډیری روزنیز پروګرامونو یوازې د هوایي ترافیک د کنټرول د نظري برخې روزنه تمویلوله او یادو پروګرامونو کې د دندې پرمهال عملي روزنه(OJT) شامله نه وه. په پایله کې دا کار د دې لامل شو چې د هوایي ترافیک کنټرولران د هوایي حریم د کنټرول اړوند چارو پرمخ بیولو پوره توان او وړتیا ونه لري.

3 د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري سره د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کمیټې مرکه - جولای 2015

په اصل کې، د کافي شمېر روزل شويو پرسونل په ګمارنې کې د افغانستان د دولت ناتواني د 47.9 میلیونه ډالرو د اضافي لګښت لامل شوی نه د 188 میلیونو ډالرو د سپما[4]. د افغانستان د هوايي چلند د ادارې د يو چارواکي په وينا، ياده اداره په پام کې لري چې د ياد تړون د پای سره سم هوايي حريم مديريت ته اړوند 80% خدمتونه په خپلواکه توګه ترسره کړي[5]. خو پوښتنه دلته دا ده چې هوايي حريم مديريت ته اړوند پاتې 20% خدمتونو به څرنګه تر پوښښ لاندې نيول کيږي.

**د تړونونو په پلي کولو کې د روڼتيا او حساب ورکونې څخه ډاډ ترلاسه کول د ملکي هوايي چلند د ادارې په وړاندې يوه ستره ننګونه ګڼل کيږي.**

د روڼتيا د تامينيدو په موخه، د (RMS) کمپنۍ سره عقد شوی تړون په ملي ټلويزيون کې د مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې او د خبري سرويس له لیارې خلکو سره شريک شو. د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره يادې کمپنۍ سره د تړون او نورو تړونونو د تطبيق او پلي کيدو څخه د څارنې مسئوليت لري، خو په دې برخه کې د پوره تخصص د نه شتون له کبله، ياده اداره نشي کولای د نوموړې کمپنۍ لخوا وړاندې شوي خدمتونه وارزوي چې د نړيوال هوايي چلند له استندردونو سره اړخ لګوي او کنه.

نړيوالې ټولنې د هوايي حريم د کنټرول، اړيکو، هوايي لارښونو، هوايي څار، د ژغورنې او اور وژنې، الکترونيکي اساسي وسايلو او د الوتنو د خونديتوب په ګډون د ملکي هوايي چلند په بېلابېلو برخو کې د تخنيکي چارو د پرمخ بيولو په موخه يو شمير کارکونکي روزلي دي، خو د څارنې د يو سمبال او مجهز ډيپارتمنټ او تکړه پلټونکو او مفتشينو نه شتون چې وکولای شي د يادو ټولو برخو دندې کنټرول کړي يوه اساسي ننګونه ده. په دې برخه کې د افغانستان دولت او نړيواله ټولنه مسئوله ده څکه چې د ځانګړو بنچمارکونو او څرګند هدفونو ترڅنګ د ظرفيت جوړونې د يوه هر اړخيز ميکانيزم په جوړولو او پلي کولو کې پاتې راغلي دي.

د دې تشې د ډکولو په موخه، د افغانستان د هوايي چلند اداره په پام کې لري چې د خونديتوب اتـه نړيوال پلټونکي په کار وګماري ترڅو د (RMS) کمپنۍ لخوا وړاندې شوي خدمتونه وارزوي چې د نړيوالو استندردونو سره برابر دي او که نه. همدارنګه نوموړي پلټونکي افغان پرسونل روزي ترڅو په يادو مهارتونو او وړتياوو سمبال شي. که چيرې ياده کمپنۍ د تړون سره سم د خپلو ژمنو په پوره کولو کې پاتې راشي، نو له ځينو بنديزونو لکه شفاهي ګوت څنډنه، کتبي خبرداری او د تړون د فسخې سره مخ کيږي. که څه هم تر اوسه داسې کومه بيلګه نه په سترګو کيږي چې په کومې سرغړونکي کمپنۍ باندې دې بنديزونه لګول شوي وي.

د يوې نيمې لسيزې په موده کې د ظرفيت جوړونې په برخه کې د ناکامۍ څخه وروسته، دا کار به د دوه کلونو په موده کې بشپړ نه شي. خو په ټولو تخنيکي برخو کې د مسلکي او روزل شويو کارکونکو لرل د افغانستان د ملکي هوايي چلند ادارې د خپلواکۍ په لور يو مهم او اړين ګام بلل کيږي. دا د افغانستان د دولت او د بسپنه ورکونکو هيوادونو ګډ مسئوليت دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د(آر ام اس) کمپنۍ لخوا د هوايي ترافيک روزل شوي کنټرولران وکولای شي لږ تر لږه د هوايي حريم د کنټرول په ځينو برخو کې د بهرنيو متخصصينو ځای ونيسي، چې دا کار هله شوني ده چې د (آر ام اس) کمپنۍ روزنيز بهير د مسلکي پلټونکو لخوا په اغيزمنه او منظمه توګه وڅارل شي.

**د افغانستان د ملکي هوايي چلند ادارې د عوايدو جوړښت**

د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره له بېلابېلو سرچينو لکه عبوري الوتنو لـه فيس( 500 ډالره لـه هرې الوتنې نـه)، د مسافرينو لـه فيس(30 ډالره له هر مسافر څخه په نړيوالو الوتنو کې او يو ډالر له هر مسافر څخه په کور دننه الوتنو کې)، د الوتکو د ناستې او پارکينګ له فيس( د ناستې فيس د في ټن وزن لپاره لس ډالره د نړيوالو شرکتونو لپاره او درې ډالره في ټن وزن د کورنيو شرکتونو لپاره او همدارنګه د پارکينګ فيس څلور ډالره د في الوتکې څخه په 24 ساعتونو کې د کورنيو او بهرنيو الوتکو لپاره)، د الوتنو لـه حق الاجرت(150 ډالره لـه هرې الوتنې څخه)، د حامد کرزي په هوايي ډګر کې د هټيو د کرايې ، د لايسنس ورکونې له فيس (په کال کې 400 ډالره له پيلوټ څخه، په کال کې 150 ډالره د پيلوټ د مرستيال او د الوتنې د انجنير څخه، په کال کې 100 ډالره له ډيسپيچر څخه، په کال کې 1,000 ډالره لـه هرې الوتکې د راجستر کيدو څخه، اوپه کال 20,000 افغانۍ د الوتکې له تصديق ليک)[6] څخه عوايد راټولوي. د 2009 کال څخه تر 2013 پورې د افغانستان د ملکي هوايي چلند ادارې په منځنۍ توګه هر کال 33 ميليونه ډالره عوايد راټول کړي دي. د افغانستان د ملکي هوايي چلند د ادارې د عوايدو لويه برخه(څه ناڅه 70%) د هيواد د هوايي حريم څخه د تيريدونکو الوتکو فيس جوړوي7. د

[4]يک ټلويزيون " امريکايي کمپنۍ د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره د دوو کلونو لپاره مديريت کوي. "

[5] د افغانستان د ملکي هوايي چلند د بشري سرچينو د رياست رپوټ ، جولای 2015

[6]د افغانستان د بيا رغونې لپاره د ځانګړي مفتش اداري د هوايي چلند د مالي اديت رپوټ 15-58 د 2015 کال د مي مياشت

افغانستان د ملکي هوايي چلند عوايد په هره میاشت کې لږ سره توپیر لري او دا د هیواد د هوايي حریم څخه د تیریدونکو الوتکو د شمیر( معمولاً په هره میاشت کې د 6000 څخه تر7000 الوتنو)، په کور دننه د الوتنو شمیر او بو شمیر نورو سرچینو پورې تړاو لري. د ترافیک د کنترول د نړیوالو منل شویو استندردونو نه پلي کولو په صورت کې د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري د عوایدو راټولولو توان نور هم محدودیږي. یو وروستی رسنیز رپوټ د ځینو نړیوالو چارواکو له خولې داسې کاږي: " که چیرې افغانستان خپل هوايي حریم د هغه پرسونل پرمټ چې د نړیوالو ستندردونو سره برابر وي مدیریت کړي[8]، د ملکي هوايي چلند په خدمتونو باندې د پام وړ باور له کبله به په کال کې څه نا څه 40 میلیونه ډالره یواځې د هیواد د هوايي حریم څخه د تیریدونکو الوتکو، او همدارنګه د هغو شرکتونو د الوتکو د فیس څخه چې د لومړي ځل لپاره د هیواد هوايي حریم ته ننوځي، عواید ولري[9]. د افغانستان د حریم څخه د تیریدونکو الوتکو د فیس په ګډون د افغانستان د ملکي هوايي چلند د ادارې عواید یواځې په یادې اداره نه بلکې په نورو برخو کې هم لګیږي."

د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري عواید له بهرنیو سرچینو څخه د تعرفې له مخې لومړی د هوايي چلند او نړیوال ترانسپورټ(IATA) په حساب کې راټولیږي او بیا وروسته د مالیې په وزارت کې د افغانستان د ملکي هوايي چلند حساب ته لیږدول کیږي. د کورنیو سرچینو څخه د ملکي هوايي چلند اداري عواید هم د وړاندې شوې تعرفې له مخې د پیسو د مقدار او سرچینې د مالوماتو سره د مالیې په وزارت کې د نوموړې اداري د کورنیو عوایدو په حساب کې راټولیږي. د ولایتي سرچینو څخه د ملکي هوايي چلند اداري عواید لومړی د افغانستان بانک په ولایتي څانګه کې د یادې اداري په بانکي حساب کې راټولیږي او بیا وروسته په کابل کې د افغانستان بانک مرکزي څانګې کې د نوموړې اداري حساب ته لیږدول کیږي. په دې ډول، د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري ټول عواید لومړی د دولت خزانې ته سپارل کیږي او په بدل کې یاده اداره له دولت څخه د خپل کلني لګښت تخصیص ترلاسه کوي. که چیرې د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره اضافي عواید هم راټول کړي بیا هم یاده اداره بودجوي خپلواکي نه لري او د مالیې وزارت کولای شي د یادې اداري بودجه کمه کړي.

د ملکي هوايي چلند دعوایدو د ډیروالي په موخه په دې وروستیو کې د افغانستان حکومت له 400 ډالرو څخه 500 ډالرو ته د عبوري الوتنو د فیس د لوړولو، د ځینو روزنیزو پروګرامونو د له منځه وړلو او په ټولیزه توګه د پرسونل د لګښتونو د کمولو په ګډون، ځیني ګامونه اوچت کړي دي. د عوایدو د راټولولو او د پیسو د لیږد په برخه کې د روټینیا او حساب ورکونې د تأمین په موخه د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداره لاندې ټکي په پام کې لري:

ټولې کورنۍ او بهرنۍ هوايي کمپنۍ خپل فیسونه د بانکي تعرفې له مخې چې د ملکي هوايي چلند د اداري لخوا صادریږي، ورکوي. د پیسو د ترلاسه کولو وروسته، د افغانستان بانک(DAB) یادو کمپنیو ته یو رسید ورکوي چې د سپارل شویو پیسو مقدار او سرچینه پکښې لیکل شوي وي. همداراځ د افغانستان بانک د هر کال په پاي کې د افغانستان ملکي هوايي چلند اداري ته یو بانکي صورت حساب (بانک استیټمنټ) هم صادروي.

د ملکي هوايي چلند د اداري د مالي او عوایدو د مسئولینو د مالوماتو پر بنسټ، د ملکي هوايي چلند اداري د عوایدو د راټولولو او لیږد بهیر د جوړښت له پلوه کومه ستونزه نه لري او ټول بهیر په الکترونیک ډول ترسره کیږي چې په بهیر کې د هر ډول ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی کوي، خو د وړاندې شویو مالوماتو د کره والي او اعتبار څخه ډاډ ترلاسه کول ژورې ارزونې ته اړتیا لري. د ترلاسه شویو مالوماتو پر بنسټ، څه نا څه ټول کورني هوايي شرکتونه د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري څخه پوروړي دي، خو د یادو پورونو د ټولیز مقدار په هکله د څارنې او ارزونې کمیټې(MEC) ته هیڅ ډول مالومات نه دي ورکړل شوي. د یادو شرکتونو د دیوالي کیدو څخه د مخنیوي په موخه د مالیې وزارت پریکړه وکړه چې یاد پورونه په اقساطو کې راټول کړي(20 % په هر کال کې)، که څه هم چې یاد عمل د هیواد د قوانینو او کړنلارو سره اړخ نه لګوي. د رپوټ پر بنسټ، تر اوسه پورې د آریانا، صافي او کام ایر هوايي شرکتونو د خپلو پورنو قسطونه ورکړي دي.

---

د ملکي هوايي چلند نړیوال استندردونه د نړیوال هوايي چلند د سازمان( آی سی ای او) له خوا رامنځته شوي او د پلي کیدو بهیر یې په منظمه توګه څارل کیږي. یاد استندردونه د لاندې ټکو په ګډون د ملکي هوايي چلند ټول اړخونه تر پوښښ لاندې نیسي: د الوتنو خوندیتوب، ملکي هوايي چلند ته اړوند قوانین او کړنلارې ، بشري سرچینې، د چاپیریال ساتنه، د الوتکي تخنیکي څرنکوالی، د هوايي ډګرونو، د څارنې د برجونو، ډیپوګانو په ګډون د هوايي چلند تأسیسات، اداري ، مالي، مدیریتي اړخونه، ټول تخنیکي وسیلې( لکه رادار، وی ساټ، ملاټ، د اړیکو او لارښونې وسایل، د اور وژنې او ژغورنې وسایل، اساسي الکترونیکي وسایل او داسې نور.

[9] RT, “Int’l chaos feared if U.S. stops managing Afghan airspace,” http://www.rt.com/usa/256301-us-management-afghan-airspace/, May 7, 2015.

**اداري فساد او د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري نيمګړې کورنی کنټرول**

د افغانستان د ملکي هوايي چلند د اداري د چاراواکو د څرګندونو پر بنسټ، اداري فساد د دې اداري ټول فعاليتونه په کلکه زيانمن کړی دي، خو ځيني برخي لکه د کارکونکو د ګمارني، د بهرنيو کمپنيو سره د قراردادونو او د تدارکاتو څانګې د سترو ستونزو سره لاس او ګريوان دي. د افغانستان د ملکي هوايي چلند په اداره کې د فساد لاملونه نورو دولتي بنسټونو ته ورته دي، لکه د جزايي اقداماتو نه شتون، د تصميم او پريکړې د واک څخه د ملکي هوايي چلند د اداري د چاراواکو ناوړه ګټه اخيستنه، د تنخوا او امتيازاتو کموالی، د سياسي او اقتصادي ثبات نه شتون، نا اغيزمني پاليسي ګاني او کړنلارې او پيچلي طرزالعملونه.

اداري فساد د افغانستان د ملکي هوايي چلند اداري د پرسونل د ظرفيت جوړوني پر بهير هم ناوړه اغيزه کړې . د ځينو دولتي کارکونکو د نا تائيد شويو رپوټونو پر بنسټ د ملکي هوايي چلند د اداري ځيني لوړ پوړي چاراواکي د بهرنيو کمپنيو له خوا د افغانستان د حريم د مديريت په تمديد کې خپلې ګټې ويني، چې دا کار په سيستمونو کې د اصلاحاتو راوړلو او همدارنګه د بشري سرچينو په څانګه کې د جدي پريکړو مخه نيسي.

د افغانستان د هوايي چلند اداري هغه چاراواکي چې د څارني او ارزوني کميټي ورسره خبرې کړي په ياده اداره کې د پراخ فساد د شتون پخلی کوي او د ظرفيت جوړوني په شته ميکانيزم کي د اصلاحاتو د راوړلو، د اداري فساد په وړاندې د کوښښونو پياوړي کولو او همدارنګه په اداري کې د بودجې د کموالي د ستونزې د هوارولو په موخه د سمو او کوټلو ګامونو د اوچتولو سپارښتنه کوي.

د افغانستان د ملکي هوايي چلند د کورني تفتيش رياست دنده لري ترڅو د اداري فساد په وړاندې هغه پاليسي پلي کړي چې د پلټني د عالي اداري لخوا ټولو دولتي ادارو لپاره جوړه شوې ده. دا په داسي حال کې ده چې ډيرى مرکه شويو کسانو د ملکي هوايي چلند کورنی تفتيش کمزوری ګڼلی دی. د ملکي هوايي چلند د کورني تفتيش رياست د خپلواکي پلټني د واک د نه شتون څخه چې وکولای شي د اداري د لوړ پوړي مشرتابه د اجازې پرته د اداري فساد اړوند قضيې وڅيړي، سر ټکوي. چې دا کار پخپله د اداري فساد پر وړاندې د هوايي چلند د لوړ پوړو چاراواکو کمزوری سياسي هوډ او ارادې څرګندونه کوي. سربيره پر دې، د کورني تفتيش رياست د بودجې د کموالي سره هم مخ دی چې ډيری مهال نه شي کولای د کابل څخه بهر سفر وکړي او خپل څارنيز ماموريت سرته ورسوي.

د افغانستان د هوايي چلند د اداري د کورني تفتيش رياست له دوو بنسټيزو ننګونو لکه د پوره سرچينو ( مالي او بشري) او اړين واک له نه شتون سره مخ دی. په ځانګړي توګه کله چې اړتيا پيدا شي چې د اداري فساد کومه قضيه لومړۍ او کومه وروسته وپلټل شي. په اصل کې په دې هکله تصميم د ملکي هوايي چلند د اداري د مشرتابه له لوري نيول کيږي. د کورني تفتيش رياست په کابل او ولاياتو کې د اداري فساد د قضيو د څيړلو مسئوليت لري خو اوسنی کلنۍ بودجه يوازې د کارکونکو د معاشنو، ځيني وړو خريداريو(پيريدلو) او په کابل او څيرمه سيمو کې د پلټني د ماموريت په ګډون يوازې د يادې اداري د روان لګښت لپاره بسنه کوي. ياده بودجه په ولاياتو کې د پلټني د ماموريت لپاره بسنه نه کوي.

په ټوليزه توګه د افغانستان د ملکي هوايي چلند په اداره کې د اداري فساد د شتون په هکله شکايت د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د عالي اداري له خوا راټوليږي، خو د کابينې د مصوبې پر بنسټ10 ياده اداره بايد خپل فعاليتونه يوازې د شتمنيو ثبتولو او د دولتي ادارو د پروسيجرونو آسانولو ته ځانګړې کړي. هغه شکايتونه چې نيغ په نيغه ملکي هوايي چلند اداري ته رارسيږي د کورني تفتيش د رياست له خوا څيړل کيږي، چې دوسيې د شکايت د څرنګوالي پر بنسټ يا لويې څارنوالی ته ليږدول کيږي او يا هم د هوايي چلند اداره پرې پريکړه کوي.

په 2014 کال او د 2015 کال په لومړۍ ربع کې، د کورني تفتيش رياست د اداري فساد اوه قضيې څيړلي دي چې له هغې ډلې د دريو قضيو دوسيې لويې څارنوالی ته ليږل شوي دي، او پاتې څلور قضيې د ملکي هوايي چلند په اداره کې وڅيړل شوې(د څارني او ارزوني کميټې ته د يادو څلورو قضيو د څيړلو په هکله هيڅ ډول مالومات نه دي ورکول شوي.) 11.

د کورني تفتيش د رياست لخوا د ترلاسه شويو مالوماتو پربنسټ، دم ګړۍ د اداري فساد په هکله ټول ټال17 شکايتونه نيغ په نيغه د ملکي هوايي چلند اداري ته رسيدلي دي، خو د ملکي هوايي چلند اداري ته اړوندو شکايتونو شمير چې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې عالي اداري لخوا ترلاسه او څيړل شوي دي هيڅ ډول ارقام په لاس کې نشته. د څارني په برخه کې د وړ او په کار پوه پرسونل نه شتون او همدارنګه د يوه هر اړخيز څارنيز ميکانيزم نشتوالی له هغو ننګونو څخه دي چې څه ناڅه د ملکي هوايي چلند

10 مصوبۀ شماره 3 مؤرخ 1393/08/01

د اداري په ټولو تخنیکي دیپارټمنټونو کې په سترګو کیږي. یادې ننګونې د دې لامل شوي چې د بهرنیو کمپنیو لخوا وړاندې شوي خدمتونه په سمه توګه ونه څارل شي چې آیا یاد خدمتونه د نړیول هوایي چلند له استندردونو سره اړخ لګوي او که نه.

اداري فساد د افغانستان د ملکي هوایي چلند د اداري په ټولو برخو کې شتون لري، خو اساسي ستونزه په دې که ده چې په یاده اداره کې هیڅوک د دې جرأت نه لري چې د دې ادعا د ثابتولو په موخه کره مالومات وړاندې کړي. په دې ارزونه کې وړاندې شوي مالومات د هوایي چلند د اداري د ځینو اوسنیو او پخوانیو کارکونکو سره د مرکو په ترځ کې ترلاسه شوي دي. لړ. تر لړه له دریو مسافرتي شرکتو سره هم مرکه شوی ده. له یادو شرکتونو څخه د راټول شویو مالوماتو پربنسټ، د 2013 کال راهیسي د سیمې هیوادونو ته د کورنیو شرکتونو په الوتنو کې د پام وړ کمښت راغلی او همدارنګه د هغو کورنیو او بهرنیو مسافرینو شمیر هم د کمیدو په حال کې دی چې له افغان هوایي شرکتونو څخه ګټه اخلي. کله چې د یاد کمښت د لامل په هکله د ملکي هوایي چلند اداري د حقوقو او د ترانسپورټ د قراردادونو د څانګې له مشر څخه پوښتنه وشوه، نوموړي وویل چې د نړیوال هوایي چلند د معیارونو په پلي کولو کې پاتې راتلل د دې لامل شوی چې د کورنیو هوایي شرکتونو په وړاندې د کورنیو او بهرنیو مسافرینو د اعتماد کچه راټیټه شي.

د ملکي هوایي چلند په اداري باندې د لوړې پانګونې سره سره، د یادې اداري په بیلابیلو څانګو کې د روزل شویو مسلکي کسانو نه شتون او پر بهرنیو مرستو د یادې اداري اتکا، د نوموړې اداري په بیلابیلو په ځانګړي توګه د تدارکاتو، مالي چارو، ظرفیت جوړونې او قرادادونو په برخه کې د فساد د شتون څرګندونه کوي.

## III. پایله

د افغانستان د ملکي هوایي چلند سره د نړیوالې ټولنې د دیارلسو کلونو د مرستو پایله د یادې اداري بیارغونه ده چې د ړنګیدو په درشل کې وه. د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره په 2013 کال کې له سره جوړه شوه او د یادې اداري په قانوني جوړښت، څارنیز نظام ، زیربناوو، امنیت او بشري سرچینو په ظرفیت کې د پام وړ سمون او ښوالی راغی.

د یادو کوښښونو او لوړو لګښتونو سره سره، د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره لا تر اوسه د پوره تخنیکي پرسونل او د اړتیا وړ مالي سرچینو د کمښت سره مخ ده. د افغانستان د ملکي هوایي چلند ډیری روزل شوي کارکونکي یوازې نظري روزنه لیدلې او د دندې پرمهال اړینه عملي روزنه(OJT) یې نه ده لیدلې.

که څه هم چې د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره هر کال د پام وړ عواید راټولوي، خو یاده اداره د دې واک نه لري چې د خپلو عوایدو څخه د خدمتونو په وړاندې کولو کې ګټه واخلي. کومه کلنۍ بودجه چې یادې اداري ته ځانګړې کیږي د هوایي حریم د مدیریت او نورو تخنیکي خدمتونو لپاره په هیڅ وجه بسنه نه کوي.

د افغانستان د ملکي هوایي چلند په اداره کې اداري فساد اوسنی کچې ته په کتو سره، د اداري فساد په وړاندې د مبارزې شته ظرفیتونه نیمګړې او کمزورې بریښي. د کورنې تفتیش ریاست پوره واک نه لري چې خپلواکه پلټنې ترسره کړي. سربیره پر دې، یاد ریاست د بودجې له کمښت سره مخ دی چې ډیری مهال د خپلو څارنیزو ماموریتو لپاره د اړتیا تر کچې نه شي کولای ولایاتونو ته سفر وکړي. شته ننګونې د دې لامل شوي چې د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د نړیوالو مالي او تخنیکي مرستو ته اړ اوسي او یادې اداري ته د افغانستان د هوایي حریم د مسولیت لیږد له خنډ سره مخ شي.

د شته خنډونو د لمنځه وړلو لپاره اړینه ده چې د ملکي هوایي چلند اداري تخنیکي ظرفیت لوړ ، د تدارکاتو او قراردادونو بهیر پیاوړی او د اداري فساد پر وړاندې شته ظرفیتونه لوړ شي او همدارنګه یادې اداري ته د خپلو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره پوره بسپنه ورکړل شي.

[1] د کورنې تفتیش د ریاست له چاروکو سره د څارنې او ارزونې د کمیټې مرکه ، د 2015 کال د جولای 26 مه

**د افغانستان د ملکي هوایي چلند خپلواکه اداره**

**سپارښتنې**

| | شاخص | | موخه | لومړني مالومات |
|---|---|---|---|---|
| 1 | د ظرفیت د اړتیا ارزونه | 1.1 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د نړیوالې ټولنې په مرسته(د امریکې د هوایي چلند فدراله اداره، د امریکې د دفاع وزارت، او ائتلافي ځواکونه) د ظرفیت د اړتیا ارزونه ترسره کوي چې د ادارې بشري، سازماني او فزیکي اړخونه پکښې رانغړي. | د 2016 د مارچ 25 تر اوسه پورې د ملکي هوایي چلند د ادارې او یا هم د نړیوالې ټولنې له خوا د یادې ادارې د ظرفیت د اړتیا ارزونه نه ده شوې. |
| 2 | د ظرفیت جوړونې د هر اړخیز پلان طرح او پلې کول. | 1.2 | د ظرفیت د اړتیا د ارزونې د موندونو پر بنسټ د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د ظرفیت جوړونې یو هر اړخیز پلان طرح او پلې کړي، چې بشري او سازماني( پالیسي ګانې، قوانین او کړنلارې، طرزالعملونه او میکانیزمونه ) او فزیکي ظرفیتونه( د هوایي چلند تجهیزات، زیربنا ګانې لکه هوایي ډګرونه، ترمینلونه، د څارنې برجونه، ډیپو ګانې او داسې نور) پکښې شامل وي. | د 2016 د مارچ 25 د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د ظرفیت جوړونې کوم پلان شوی او دوامداره پروګرام نه لري او په دې برخه کې روانې هڅې د تمویل کونکو د انفرادي پلانونو پر بنسټ په لاره اچول کیږي. |
| 3 | د ملکي هوایي چلند په اداره کې د کافي شمیر روزل شویو تخنیکي پرسونل شتون | 1.3 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د نړیوالې ټولنې په مرسته(د امریکې د هوایي چلند فدراله اداره، د امریکې د دفاع وزارت، او نور تمویل کونکي) د ملکي هوایي چلند د ادارې د اړتیا وړ پرسونل باید تر روزنې لاندې ونیسي ترڅو یاده اداره د اړتیا وړ تخنیکي پرسونل له پلوه په ټولو برخو کې پر ځان بسیا شي. | د 2016 کال د مارچ 25 مه تر اوسه پورې هیڅ ډول پروګرام چې د ظرفیت د اړتیا د ارزونې پر بنسټ جوړ شوی وي نه دی ترسره شوی، او ډیری روزنیز پروګرامونه د تمویل کونکو د انفرادي پلانونو پر بنسټ په لاره اچول شوي دي. د امریکې د هوایي چلند د فدرالي ادارې لخوا ډیری روزل شویو کارکونکو یوازې نظري روزنه لیدلې ده او لا تر اوسه یې د دندې پرمهال اړینه عملي روزنه نه ده ترلاسه کړې. |
| 4 | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون د شته بهیر پر بنسټ د ملکي هوایي چلند اداري د کارکونکو ګمارل. | 1.4 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند خپلواکه اداره او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د هوایي چلند د کارکونکو ګمارل د ملکي خدمتونو د کارکونکو د ګمارنې د طرزالعمل او د یاد کمیسیون د شته بهیر پر بنسټ ترسره کړي. | د 2016 کال د مارچ 25 مه د افغانستان د ملکي هوایي چلند په اداره کې د کارکونکو د ګمارنې بهیر د دولتي لوړ پوړو چارواکو، سیاسي مشرانو او د ولسي جرګې د غړو تر سیاسي اغیزې لاندې دی، چې دا کار ځینې وخت د دې لامل ګرځي چې ځینو کلیدي او مهمو پوستونو ته نا وړ کسان وګمارل شي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 5 | د مزایدې او داوطلبۍ بهیر باید د تدارکاتو د قانون پر بنسټ پرمخ بیول شي. | 1.5 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري د قراردادونو ریاست یواځې هغو قراردادونو ته په مزایده کې د ګډون اجازه ورکړي چې خپل مالیاتي مسئولیتونه یې ادا کړي وي او د فعالیت قانوني جواز ولري. | د 2016 کال د مارچ 25 مه<br>د قرادادونو قانوني بهیر ته د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري غاړه نه اېښودل ځینې وخت د دې لامل ګرځي چې له داسې کمپنیو سره تړون وشي چې خپل مالیاتي مسئولیتونه یې نه دي اداء کړي او د فعالیت قانوني جواز هم نه لري. |
| 6 | د نړیوالو منل شویو استندردونو پر بنسټ د اغیزمن څار له لیارې د افغانستان د هوایي حریم مدیریت. | 1.6 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداره د نړیوالو همکارانو( د هوایي چلند د فدرالي اداري، د امریکې د دفاع وزارت او ائتلافي ځواکونو) په همکارۍ سره د یادې اداري څارنې څانګه د کافي وسایلو په بر ابرولو، روزل شویو پلټونکو په ګمارلو او د څارنې د یو هر اړخیز میکانیزم په رامنځته کولو سره پیاوړې کړي. | د 2016 کال د مارچ 25 مه<br>د ملکي هوایي چلند اداره د څارنې کوم پیاوړي او سمبال ریاست چې پوره مسلکي پلټونکي ولري نه لري او همدارنګه د داسې یو هر اړخیز څارنیز میکانیزم څخه هم برخمن نه دی چې پر مټ یې وکولای شي ډاډ ترلاسه کړي چې د یادې اداري او یا قرادادیانو لخوا وړاندې شوې تخنیکي خدمتونه د نړیوالو ملکي هوایي چلند معیارونو سره اړخ لګوي او که نه. |
| 7 | د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري د کورني تفتیش پیاوړي کول. | 1.7 | **الف:** د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري مشرتابه باید د یادې اداري د کورني تفتیش ریاست ته پوره واک ورکړي ترڅو یاد ریاست د مشرتابه له اجازې پرته وکولای شي په خپلواکه توګه د اداري فساد ټولې قضیې وڅیړي.<br>**ب:** د ملکي هوایي چلند مشرتابه باید ډاډ ترلاسه کړي چې د کورني تفتیش په ریاست کې په کافي شمیر پلټونکي په دندې ګمارل شوي دي او د اداري فساد اړوندو موضوګانو او د پلټنو د پلي کولو په برخه کې یې اړینې روزنې لیدلې دي. | د 2016 کال مارچ 25 مه<br>د ملکي هوایي چلند اداري مشرتابه ځیني وختونه د کورني تفتیش په چارو کې لاس وهنه کوي چې دا کار د دې لامل ګرځي چې د اداري فساد قضیې په سمه توګه ونه څېړل شي. د کورني تفتیش په ریاست کې د اداري فساد د قضیو د څېړلو لپاره د پوره تخصص نه شتون هم د یادې اداري په وړاندې یوه ستره ننګونه ده. د کورني تفتیش ځیني پلټونکي د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې او فساد ته اړوندو قضیو د څیړلو لپاره کافي تخصص او وړتیا نه لري، چې دا کار ځیني وختونه د یاد ریاست د چارو د نااغیزمنتیا لامل ګرځي. |

**ضمیمه: ملکي هوایي چلند سره نړیوالې مرستې**

**د بنسټونو پراختیا**

- د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري تأسیس
- د ملکي هوایي چلند قانون او هغه ته اړوند پالیسي ګانو او کړنلارو جوړول، د عوایدو راټولولو او امنیتي څار سیستمونو رامنځته کول.
- د ملکي هوایي چلند د لارې د نقشې او د هوایي چلند د عملیاتي پلان په چمتو کولو کې له دولت سره مرسته.

**د تأسیساتو رغونه**

- د کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې د الوتکو د ناستې د لاربنود سیستم نصبول.
- د کرزي د هوایي دګر د څارنې د برج او د رادار د تأسیساتو بیارغونه.
- د کرزی هوایي دګر د **رنوي**(Runway) بیارغونه.

- د کرزي هوايي ډګر ته د ارتباطاتو او هوايي ترافيک کنټرول وسايلو برابرول.
- د افغانستان د ترمينل د ارتباط شبکې پراختيا چې پوځي او ملکي الوتکو ته د څار خدمتونه وړاندې کوي.
- د الوتکو د لارښوني د اتو سيستمونو برابرول چې په هغو کې د ترمينل د ارتباط اوه کوچنی شبکې (VSAT) او يو د رادار سيستم شامل دي.
- د کابل د کنټرول مرکز جوړول

**د هوايي ډګر د امنيت ښوالی**

- د يوې امنيتي ودانی جوړول او د هوايي ډګر د احاطې خوندي کول
- د افغانستان لپاره د هوايي چلند د يو امنيتي سيستم په جوړولو او پلي کولو کې مرسته.
- 

**بشري سرچينو د ظرفيت لوړول**

- د هوايي ترافيک د 94 کنټرولرانو روزل
- د هوايي چلند د پلټنې( تفتيش) په برخه کې د 19 تنو، د اړيکو، د الوتنو د لارښوني او د څار په برخه کې د 14 تنو، د مديريت په برخه کې 13 تنو، د اور وژنې او د الوتکو د پريوتلو د ژغورنې د خدمتونو په برخه کې د 15 تنو او د هوايي چلند د مالوماتو د خدمتونو په برخه کې د 4 تنو روزل.
- د اور وژنې د 70 تنو کارکونکو په ګډون د 200 افغانانو روزل.
- د الکترونيک او د الوتنې څخه مخکې د الوتکو د خونديتوب په برخه کې د ملکي هوايي چلند د کارکونکو روزل.
- د انګليسي ژبې د زدکړې او همدارنګه د اړيکو او د الوتنو د لارښوني او څار په برخه کې د زدکونکو لپاره د کورسونو په لاره اچول.

• • •